# Two Ancient Pashto Qaseedas

Muhammad Daud [1], Noor Muhammad Danish Bettani [2]

**Abstract**: Various literary genres have their history of evolution in a particular literature. There are many genres in Pashto literature. All of them have their history and background of their introduction in Pashto literature. Among them one literary genre is qasida. It is a very famous and popular genre in Pashto literature. It has its roots in Arabic literature. From Arabic it came to Pashto via Persian literature. The first qasida in Pashto is that of Shaikh Asad Sori. Later on this genre developed in Pashto literature. This article describes the origin, evolution and arrival of qasida into Pashto literature.

**Keywords**: Qaseeda, Literary Genres, Pashto Poetry

قصیده یا بولله دقصد له مصدره منځته راغلې ،چې معنا ئې استقامت،اتصال، سموالي، برابري او سوچه توب دے، یا هغه ښکلے شعر چې دبیتونو شمېر ئې له (۱۶ یا ۱۷) کم نه وي [1, p9]. قصیده: (ق، صي ، ده ) اسم واحد،مونث، دپنډۍ د هډوکي مغز دنظم یوقسم چې پکښې د چا تعریف یا خرابوالے بیان شوے وي[2, p998]. ځیني نور لیکوال بیا قصیده د قصد کړي شوي د یو خاص مقصود یعنې هغه شعر چې په هغه کښې یوځانګړے قصد او اراده وي او هغه قصد په اصل کښې مدحه وي ،قصد په عربي کښې توجو کول او د یو شي یا چا پسې مخ راګرځولو ته وائي ،دا توجو او قصد په قصیده کښې مخ ګرځول دي د خپل ممدوح مدحې ته[3, p7]. په ساده ډول به اووایو چې قصیده او غزل په خپلو کښې همدا توپیر لري چې د قصیدې بیتونه زیات وي او دعزل بیتونه کم ،بلکې دا به اووایو چې غزل له قصیدې رازېږېدلے صنف دے .

## 1 دقصیدې لنډ تاریخي بهیر

که د پښتو قصیدې پوخوالي او شعري قوت ته وکتل شي نو په تاریخي لحاظ داسې اټکل کېږي چې (کومه پښتو قصیده چې ترمونږه را رسېدلې ) تر دې ډېره زاړه او پخوانۍ ده .

[1] Pashto Academy, University of Peshawar
[2] Pashto Academy, University of Peshawar

دا چې دا صنف د عربي شعر تر ټولو زوړ او پیاوړے صنف دے نو اړیو چې لومړي په عربي ادب کښې د قصیدې په باب خبرې وکړو اوبیا ئې په فارسي دوره کښې وګورو او په پائې کښې به ئې په پښتو ادب کښې ارزونه وکړو.

دا هغه شعري صنف دې چې په عربي ادب کښې تر اسلام دمخه دجاهیلیت په دور کښې شهرت ته رسېدلے او دعربو اولسونو په منځ کښې دیو ځانګړي باور او اعتبار وړ بلل کېده.

قصیده په عربي ادب کښې یو بنیادي صنف ګڼل کېده ( دعربو په جاهلي دوره کښې ئې ډېره وده کړې وه او عربو به ډېر ارزښت ورکاوه،تر دې چې پیاوړو شاعرانو به دقصیدو مسابقې سره کولې او دعکاظ په بازار کښې او دمکې په دېوالونو به ئې ځړولې او نور شاعران به ئې ادبي مقابلې او ځواب ته رابلل ،په بوللوکښې به داسې ستائنې اوغندنې کېدلې چې کله کله به دعربوپه قبایلي جګړو کښې وویلې شوې، نو دجګړې لوري به ئې بدل کړ اوبائیللې جګړه به ئې وګټله.)[4, p392]

په قصیده کښې به حماسي ،عشقي،قومي او قبایلي مناظر تصویر کېدل، دخپلو ولسونو او قهرمانانو د اتلولی او ویاړنو یادونه به ئې پکښې کوله د ویلو اداب او طرز ئې معلوم و،قصیده به په یو تشبیب یا نسیب پیل کېده.[3]

> دعربو له جاهلي ادبه اوس مونږ ته هغه اوږدې او خورا فصیحې قصیدې دنمونې په ډول پاتې دي،چې معلقات سبعه ئې بولي.[1, p89]

دعربي ادب دامعتبر شعري صنف په فارسي شعري بهیر کښې هم ډېرځلېدلې او پالل شوې ،په دغه شعري صنف کښې دفارسي ژبې ډېرو مشهورو شاعرانو لکه رودکي، عنصري او نورو دڅواک او واک تر بریده شاعري وکړې او تر عربي ژبې ئې په خپل شعري چاپېریال کښې ښه وځلوله.

په فارسي شعر کښې قصیده هغه مسلط ،حاکم او خپل واک شعري فورم یا صنف دې چې له پیله تر پایه (دڅلورمې پېړی له پیله او شپږمې تر نیمایي پورې) ئې په فاسي ادب ښه راج او خراج چلولې دي.

په دغه پېړی کښې د صفتونو بازار له راج نه لوېږي، یوازې محبوب یا معشوق چې دقصیدې دلومړی برخې یا تغزل په ډول پاتې کېږي خو بله یا دویمه برخه چې ممدوح یادېږي په کرار کرار له منځه ځي

په شپږم قرن کښې داسې شاعران پیدا شول چې هم به ئې قصیده وئیله او هم ئې غزل،چې دوخت په تېرېدو سره دغزل پر لور میلان ډېر او دقصیدې وئیلو ستړي ښکاري،په دغه وخت کښې غزل دقصیدې ځاے ناستي کېږي ،بلکې دقصیدې دنده چې صفت کول دي،غزل ته سپارل کېږي.

---

[3]( ) تشبیب به دمعشوقې دمینې او عشق ستاینه وه او یا به هم دیو شاعر د احوال بیان و. نسیب په عربي ژبه کې دمعشوقې دښکلا وصف ،دهغه دمحبت او مینې بیان دي.

| | |
|---|---|
| | A |
| | A |
| | A |
| | A |
| | A |
| | A |

جدول 1.3: قصیدے شکلي جوړښت

قصیده داسلام تر راتګ وروسته فارسي ته له عربي نه په لفظي ،معنوي او تخئیلي رنګ کښې راغلې ده، ... او بیا پښتو ته له فارسی نه په لفظي ،معنوي او تخییلي ښایست کښې راغله.[4, p392] په لنډ ډول به ووایو چې پښتو ادب کښې دقصیدې په لاس راغلې بېلګه دپنځمې هجري پېړۍ له پیل نه موجوده ده.

## 2 دقصیدې جوړښت

په عربي ژبه کښې دقصیدۍ لومړۍ نمونې چې لیدل شوي دبیتونو شمېر ئې ۱۶ یا ۱۷ دي .

خو په وروستیو کښې دا تعداد دوخت په تېرېدو سره مخ په پورته ځي، چې معمولاً له پنځلسو۱۵ نه تر پنځوس یا شپېته بیتونو پورې رسېږي. تر یوه وخته همد اشمېر دباور وړ و، خو بیا وروسته دقصیدې د اوج یا تسلط په زمانه کښې دبیتونو شمېر یوه نه تر دوه سوه او یا هم تر دې زیات شو.

> په پښتو کښې دبوللې دبیتونو شمېر دپنځلسو څخه نیولې بیا یوسلو پنځوس او د پنځوسوبیتونو په شاو خوا کښې وئیل کېږي.[5, p33]

ځینو لیکوالو ئې هېڅ دبیتونو اندازه نه ده په ګوته کړې (د قصیدې د شعرونو د تعداد څه قید نشته ،دا د پینځو نه واخله تر هرڅومره شعرونو پورې کېدے شي.)[6, p153]

لومړي بیت ته مصرع وائي، همدا رنګه قافیه او ردیف هم لري او په پاي کښې مطلع هم لري . نو وئیلے شو چې قصیده لاندې شکلي جوړښت ته ورته ده . وګورۍ شکل **??**.[7, p38]

## 3 قصیده په پښتو ادب کښې

مونږ چې په پښتو کښې د قصیدې کومه نمونه لرو هغه د شیخ اسعد سوري رحمة الله علیه ده چې د پټې خزانې په حواله د پښتو ادب په پاڼو کښې خوندي ده.

د پټې خزانې په حواله وئيلے شو چې : د لرغوني پښتانه ليکوال شېخ کټه عليه الرحمه له تاريخ سوري نه داسې روايت کوي چې أسعد سوري د اوسني افغانستان په غور کښې اوسيده او د غور د واکمن امير محمد سوري[4] په دربار کښې د قدر او عزت خاوند وو.

اسعد سوري[5] دامير محمد سوري د مړينې په ماتم کښې يوه ويرنه وئيلې ده، چې په لاندې ډول ئې يو څه برخه وړاندې کوو .

دفلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هرګل چې خاندي په بهار
هرغاټول چې په بيدياغوړيده وکا
رژوي ئې پاڼې کاندي تار په تار
ډير مخونه د فلک څپيړه شنه کا
ډير سرونه کا د خاورو لاندې زار
د واکمن له سره خول پريباسي مړشي
د بيوزلو وينې توي کاندي خونخوار
چې له برمه ئې زمري ريږي ځنګلو کښې
له اکوبه ئې ډاري تيرو جبار
هم ئې غشي سکني ډال د ژوبلورو
رستمان ځيني ځغلا کاندي په ډار
چې ئې ملاوي نه کږيږي په غښتليو

[4]شېخ اسعد سوري دپلار نوم يې محمد و، په غور کښې اوسيده او په سوري شاهي کورنۍ کې دډېر درناوي وړ و .

[5]سوريان يا سوري د پښتنو يوه لر غو نې قبيله ده ،په لويه کښې دلودي پښتنو يو څانګه ده،چې اصلي استوګنځاي يې دغور سيمه ده ،غور په اوسني افغانستان کښې يوه صوبه (ولايت) دي ، دوخت په تېرېدو سره دا قبيله دپښتنو مختلفو سيمو ته کډه شول چې زيات شمېر يې د هريرود لمنو ،غزني او يوشمېر يې د سليمان غره لمنو ته وکوچېدل چې هلته د دامان په سيمه کښې مېشته دي،ددې قبيلې خلک په غور ،بادغيس او هرات کې د زوريانو په نوم يادېږي. علامه حبيبي دخپل اثر (دپښتو ادبياتو تاريخ لومړي او دويم ټوک) په۴۳۲ مخ کښې کاږي چې " سوري يا زوري دپښتنو شاهانو يوه لر غوني کورنۍ ده چې له دوي نه دپښتو ژبې داسلامي دورې ډېر اثار مونږ ته را پاتې دي اودغه سوريان دپښتنو په تاريخ کښې ډېر اهميت لري· سوري دغور يوه مشهوره قبيله ده چې اوس هم شته او زوري يې بولي "

دا فلک پرې وکړې څه کارې ګوزار [6] [8, p34]

مونږ تر اوسه د پښتو قصیدې له پیله داسې کومه نمونه نه لرو چې د عربي او یا هم فارسي ژبې نه کټ مټ را ژباړل شوې وي، بلکې داسې بېلګې شته چې د عربي او فاسي تر تاثیر لاندې دي،د بېلګې په ډول همدا د شېخ اسعد سوري قصیده ئې غوره بېلګه ګڼلے شو.

(د موجوده لاسته راغلو اسنادو له مخې د پښتو ترټولو پخوانۍ لاسته راغلې دا بوللـه داسلامي پېر د پنځمې پېړۍ په اوایلو پورې اړه لري.... په دغه بوللـه کښې د یوې ښې او په فن پوره بوللې ټول لوازم شته )[9, p83]

د پټې خزانې په حواله وئیلے شو چې شېخ اسعد سوري په کال ۴۲۵هـ د زمینداور او غور تر منځ په بغنین (بغني) سیمه کښې وفات شوے ،ددۀ د شعر په اړه روایات داسې دي چې کله امیر محمد سوري په کال ۴۰۵هـ شاو خوا دسلطان محمود غزنوي سره داهنګران پرکوټ جګړه وکړه نو تر اوږدې جګړې وروسته امیر محمد سوري دسلطان لښکرو ته تسلیم شو او بیا په بند کښې له غېرته مړ شو نوشېخ اسعد سوري د هغه په مړینه ساندې وویلې .[8, p38]
علامه حبیبي د اسعد سوري دقصیدې په اړه اوږد تحلیل کړې چې زه ئې دلته مهم ټکي راوړم:

- په لرغونو پښتنو شاعرانو کښې د اسعد سوري له شعر نه معلومېږي چې د معاصرو فارسي شاعرانو د اثارو سره نږدې والے او ادبي رابطه لري . ددې قصیدې له متن نه او هم ددې عصر د فارسي شاعرانو له شعرونو څرګندېږي چې دامهال شعر ،په ځانګړې ډول قصیدې ویلو دود زیات وو، د غور او غزني د مدنیتو ترمنځ اړیکه ښه قوي څکه وه چې هم په غزني کښې قصیده ویوونکي زیات وو او هم په غور کښې .
- د وزن او عروضي کیفیت له پلوه دا قصیده د پښتو د خپلو اوزانو سره پوره توپیر لري بلکې وئیلے شو چې دفارسي د اوږدو قصایدو په ډول وئیل شوې ده، شاعر ئې دفارسي قصیدو په ډول لومړې له فلکه شکوه کوي ،فلک غندي او بیا خپل مطلب ته ګریز کوي.
- په قصیده کښې ډېر عربي او فارسي لغات راغلي دي او هم ئې ترڅنګ زیات شمېر پښتو سوچه لغات خوندي کړې دي.

[16]- کوکار: فریاد ۲- زمولوې: مړاوې کوې ۳- برمه: شان ۴- اکوبه: شان اوشوکت ۵- تایرو: تېرې کوونکې ۶- سکښې: غوځوې ۷- ژوبلورو:جنګیالیو ۸- سپار: سپر ۹- ورژلو: غمجنو ۱۰- لور: پیرزوینه ،لورینه ۱۱- زره کراړیه : زړه سختي،سنګ دل ۱۲- ژړا ژړ: شور اوفریاد ۱۳- شنار: تېرې، ظلم ۱۴- لورې : پیرزوینه ۱۵- ملا: ملګرتیا.

- داقصیده په سلاست اوبلاغت او ادبي ښېګنو کې دپښتو له لومړۍ درجه اشعارو څخه ده او دا ښکاره کوي چې اسعد یوډېر مقتدر او زبردست شاعر و.[10, pp289-290]

که داسعد سوري له قصیدې راتېر شو نو وئیلي شو چې په پښتو کښې دویمه لاسته راغلي قصیده د ښکارندوي غوري ده ، چې د سلطان غیاث الدین او سلطان شهاب الدین غوري په ستاینه کښې ئې وئېلې ده.

د ښکارندوی غوري[7] د ژوند حال محمد هوتک بن داود په خپل کتاب پټې خزانې کښې راوړې دي او دشېخ کټه متي زي د لرغوني پښتانه په حواله ئې دهغه یوه قصیده رانقل کړې ده ،چې دلته ئې دبېلګې په ډول یوڅه برخه را اخلو.

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیائې ولونل په غرونو کښې لالونه
مځکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې سوې
طلیسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې وښکلل بڼونه
د غټولو جنډې خاندي وربدي ته
زرغونو بڼو کې ناڅې زلمي جونه
لکه ناوې چې سورټیک په تندي وکا
هسې وګاڼل غټولو سره پسولونه
مرغلرې چې اوره وخونو لیه
په ځلا ئې سوه راڼه خپاره دښتونه
زرغونو مځکو کې ځل کا لکه ستوریه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپین ګلونه
سپینې واورې ویلېده کاندي بهیږي
لکه اوښې د مین پر کړېوانونه

[7]ښکارندوي غوري۵۸۰ لیږدیزکښې زیږېدلي دي، دغور و او پلار یې احمد دغور دفیروز کوه کوټوال و. پټه خزانه،۳٤ مخ۰

هر پلو رڼې والې بهاندې خاندې

له خوښيه سر وهی له سينګړونه [8, p34]

پورته قصيد ټول پنځه شلوېښت بيتونه لري ،دا په اصل کې يو مدحيه بنه لري چې په هند باندې دسلطان شهاب الدين دلښکر کشيو مناظر روښانه کوي.

ښکارندوي چې په دې قصيده کښې دخپل ممدوح سلطان شهاب الدين کومه مدحه کړې ده او کوم الفاظ چې ده استعمال کړي دي ، له عقله ليرې او دمبالغې په رنګ کښې نه دي رنګ شوي ،بلکې دغور دسلطان برياوې ،مېړانې اولښکر کشی ،داسلام دخپرېدلو هڅې، دده فتوحات او جنګي کارنامې ئې داسې ستايلي دي چې مدحه ئې کوم فني عيب نه لري. [11, p47]

ددې قصيدو په مرسته مونږ ته دخپلو پښتنو دوه شاهانو او هم په لويه کښې د غور سوري کورنی ټول تاريخ راڅرګند شوي دي.

- دښکارندوي قصيده چې په پېل کښې دپسرلي دمناظرو يو ډېر په زړه پورې انځور وړاندې کوي بيا دغوري افغان پاچا سلطان شهاب الدين دفوجي او حربي کارنامو او په هندوستان کښې دده داسلامي فتوحاتو ستائينې او مدحې ته متوجه کيږي،په دې مدحه کښې که شاعر ښکارندوي داسې څه نه وائي چې دپښتنو له عمومي روحيې سره مخالفت ولري،دا مدحه پرځاے مدحه ده او له عقله لرې او له پښتني ادابو او رسومو مخالف څه نه پکښې ليدل کيږي.[11, p49]
- په دې قصيده کښې مدحه دپښتني اصولو او ادابو سره برابره راوړل شوې او هم ئې ټول شعرونه دپښتني روحيې او کړو وړو سره برابر ويل شوي دي.
- په دغه قصيده کښې شاعر کوښښ کړي چې دڅلورمې اوپنځمې پيړی دفارسي قصيدو په څېر دټولو اصولو دمراعت سره سره يو لړ عالي هنري جوړښتونه او دښکلاو تصويرول رامنځته کړي.
- په دې قصيده کښې سره له دې چې عربي او فارسي لغات هم راغلي دي خو ددې ترڅنګ پکښې دپښتو داسې زاړه لغات هم ميندل کيږي چې لاتر اوسه په عامه پښتو کښې نه دي رواج.[11, p49]

# 4 پايله

په پورته ډول د دواړو قصيدو په شننه او بحث دې پايلې ته رسيږو چې : دقصيدې پيل په عربي ادب کښې دجاهليت دلومړی دورې شوي دي او په عربي ادب کښې اووه مشهورې قصيدې شته دي.

- قصیده په فارسي ژبه کښې دځلورمې پېړۍ راپېلخوا ترشپږمې پېړۍ پورې خپل اوج ته رسېدلې ،دغه وخت په فارسي ژبه کښې قصیدې دسامانیانو او غزنویانو په دربارونو کښې ډېر وویکي شاعران لرل.
- دا مهال دغور په دربارونو کښې اوسېدونکو پښتنو شاعرانو هم دخپلې سیمې دمسلط ادبي جریان تراغیز لاندې په پښتو کښې قصیدې اووئیلې.[11, p48]
- دپورته قصیدو له محتوا معلومه ده چې دعربي او فارسي تر تاثیر لاندې دي ، زما په فکر دعربي اثرات ئې داسلامي کلتور اغیزمنتیا روښانه کوي او دپارسي اغیز ئې د وخت د دربارونو لکه ساماني دربار او غزنوي دربار له امله دي.
- دا وخت دپښتو په ګاونډه او په ادبي پلوه دپیاوړې ژبې فارسي اثارت په سیمه حاکم و، نو ځکه پښتو شاعران هم دفارسي ژبې نه په نقل اړشوي څو درباري شعر اووائي او دفارسي ژبو شاعرانو سره په دې برخه کې خپله سیالي برابره کړي.
- پښتو ادب کښې هم قصیده په پنځمې هجري پېړۍ کښې په لاس راغلې ،دا هغه وخت دي چې په فارسي کښې قصیدې پوره یوه پېړۍ مزل کړي و.
- د اسعد سوري تر قصیدې وروسته بله بوللـه چې په شپږمې هجري پېړۍ پورې اړه لري هغه د ښکارندوي غوري ده،چې دواړه بوللې په پښتو شعري بهیر کې ځانګړې ځاي لري او دقصیدې دیو معلوم تاریخ په توګه ئې یادونه کوو.
- دواړه بوللې دغور په دربارونو کښې ویل شوي ، دغور دربار دشاعرانو دځانګړې پاملرنې او پالنې مرکز و نو ځکه خو ئې دشعر او شاعرانو پالنې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.
- که دغزني دربار دقصیدې او مدحې غوره مرکز بلل کېده ، نو دغور واکمن دربارونه هم دغزني په څېر له چا کم نه و او دا وخت پکښې په معیار برابرې قصیدې ویل شوي دي.
- ددې قصیدو دشعري قوت نه دا څرګنده ده چې دا وخت پښتو قصیده ډېره پخه وه نو له علاماتو ښکاري چې تر دې پخوا به زیات شمېر قصیدې ویل شوي وي چې اوس زمونږ په لاس کې نشته.
- ددې قصیدو په برکت مونږ ته دپښتو ډېر زاړه لغات په لاس راغلي چې دپښتو د ژبنۍ بډاینې ثبوت وړاندې کوي او هم پکښې پښتني دودونه اوملي کړه وړه ښه انځور شوي دي.
- دقصیدې دکولتوري او یوشمېرنورو سمبولیکو نښو نښانونه دا په ډاګه کېږي چې پښتو شعري ادب ته قصید مستقیم له فارسي ژبې راغلې،په دې معنا چې فارسي دا وخت دپښتنو شاهانو په دربارونو او هم دوخت دنورو واکمنو په دربارونوکښې حاکمه او په سیمه

مسلطه ژبه پاتې شوې ،نو پښتانه شاعران هم اړ شوي څو قصیده په مستقیم ډول له پارسي ژبې پښتو ته رانقل کړي.

- تر اوسه دپښتو تر ټولو لرغونې شاعرۍ لاسته راغلې نمونې ډېر سوچه او دنورو ژبو له لغاتو پاکې برېښي،په دې برخه کې د امیر کروړ ویاړنه او دابومحمد هاشم زید سرواني دخپل استاد ژباړلي شعر که وکتل شي نو په هېڅ ډول د عربي او یابلې ژبې اثر پرې نه معلومېږي خو په پورته دواړو قصیدو کښې د دوه ژبو (عربي او پارسي) پوره اثرات له ورایه ښکاري .

## Bibliography


[1] Abdul Hai Habibi, A Short History of Pashto Literature, Allama Rashad Publications, Kandahar, 2008

[2] Qalandar Mohmand, Daryab, Farid Sahrai Text Book Board, Peshawar, 1994

[3] Cyrus Shamisa, Inquisitive Literature, Tehran, Mithra, 2007, p.7

[4] Lal Pasha Azamun, Pashto Nazam Pohana, Academy of Sciences of Afghanistan, 2018

[5] Zuerudin Zewar, Dictionary of Pashto Literature, Mohmand Publications Society, Jalalabad, 2016

[6] Mushtaq Majrooh Yousafzai, Zarkani, University Book Agency, Peshawar, November, 2010

[7] Mohammad Ismail Yoon, The Hindsi Structure of Pashto Poetry, Danish Publications Society, Kabul, 1998

[8] Mohammad Hotak Bin Dawood, Pata Khazana, Maaraf Printing Kabul, 1339H

[9] Syed Ghani, Ancient Pashto Poetry, Mohmand Publication Society, Jalalabad, 2019

[10] Abdul Hai Habibi, History of Pashto Literature, Danish Publications Society, Peshawar, 2005

[11] Zalmay Hewad Mal, History of Pashto Literature (Ancient and Middle Ages), Danish Publications Society, 5th Edition, 2014

[12] Abdul Sami Wahdat, Ancient Period of Pashto Literature, 3rd edition, Paktus Publishing Society, 2016